# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| Political | سیاسی |
|---|---|


هم میهنان گرامی:
از ارسال مضمون و علاقمندی شما عزیزان به پورتال "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان" که جایگاه کلیه مبارزان آزادیخواه است، از صمیم قلب ابراز امتنان می نمائیم. طرز دید سیاسی و اجتماعی مختلف تا زمانیکه متضاد با منافع ملی نبوده و استقلال کشور را صدمه نزند، مانع همکاری ما نخواهد شد. پورتال با دید وسیع و عاری از هر گونه تعصب قضایای کشور را مورد ارزیابی قرار داده و با توجه به منافع علیای کشور قضاوت خود را صادر میکند. ما را عقیده برآن است تا زمانیکه افغانستان مصیبت کشیده از قید اشغال و استعماررهائی نیابد، مردم داغدیدۀ این سرزمین طعم سعادت، آرامش، آزادی و عدالت را نخواهند چشید. علی رغم بینش و تقرب متفاوت ما نسبت به انتخابات ریاست جمهوری نظام مستعمراتی کابل، پورتال "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان" با خرسندی کامل مضمون شما را مجال نشر میدهد. ما امیدواریم که همکاری شما هموطنان همچنان ادامه یافته تا ما و سایر هم میهنان از نظرات مفید تان مستفید گردیم.
پورتال **AA-AA**

# تحریم تحریم تحریم

## دجرمني په بايرن ايالت کې دافغانانو دکولتوري ټولنې اعلاميه

۲۵ـ۰۴ـ۲۰۰۹

**نن دجرمني په مونشن ښارکې زموږ دکولتوري ټولنې غړوخپله نوبتي غونډه وکړه دغونډې اجنډاپه افغانستان کې د ولسمشري دټولټاکنو دتحريم موضوع وه په ياده شوې موضوع ډېر بحث وشو چې بيا د لاندې د لايلو پر بنا را رواني تحميلي،غيرطبعي اوغير عملي ټولټاکنې محکومې او دتحريم وړ وګڼل شوې :**

**ـ زموږ د هېواد نږدې اتيا په سلو کې وګړي لـه سولې اوامن څخه محروم دي چې داحقيقت پخپله نړيوالې ټولنې هم منلی دی .**

**ـ په پښتون مېشتوسيموکې هم په شعوري ډول اوهم دناامنيو لـه وجې کارتونـه نـه دي وېشل شوي نوکله چې زموږ دهېواد له اصل ډېره کي توکم(پښتون)سره په لوی لاس دومره جفا کيږي بيانو ټولټاکنې دڅه او دچا لپاره؟**

**ـ په بې شمېرو کارتونولا وار دمخه سوداګري شوې چې له هغو څخه به ډېره ناوړه ګټه پورته شي .**

**ـ دبن دکنفرانس پرېکړې له هغو خپلو کميو سره سره هم عملي نه شوې، په افغـان ولس يوه غداره، پوډري اويوه داسې له فساد څخه ډکه اداره تحميل شوه چې نه تنها افغانان يې وشرمول بلکې دنړيوالې ټولنې حثيت يې هم په ځمکه وويشت خوبيا هم نړيوالـه ټولنـه همدافاسدين دجګړې داوږدولولپاره نـازوي ترڅوسوله لاپـه شا وتمبيږي، مقاومت غښتلی او د لاډېرې ودې په نتيجه کې ټولـه سيمه نـا ارامـه او مغرضين خپلو موخو تـه ځانونه ورسوي،**

**زموږ په ولسي وګړو داړندې بمباري په همدې منظورشوې او کيږي ددې ترڅنګ زموږ په بېوزلو وګړوپه ډېره بې رحمي سره يورانيم لرونکې وسلې هم کـاروي چې دنمونې په ډول بـه تاسو تـه څومستند تصويرونه زموږ داعلامې په وروستۍ برخه کې دروښيو.**

**ـ موږ دنړيوالې ټولنې دوه مخي سياست اندېښمن کړي يوله يوې خوا پخپله نارې وهي چې امن نشته اونا امني بـه نوره هم په زياتېدو شي خو له بلې خوا يې دکابل اداره دې ته مجبوره کړې ده چې ټولټاکنې وکړي، داپه داسې حال کې چې دټولټاکنودکميسيون ويـاند وويل چې موږ دڅلورميليونوپـه شـاوخواکې کارتونـه وېشلي دي ديـادولو وړ ده**

چې نن سبا افغان نفوس له دېرشوميليونوڅخه لوړبښکاري نوپه کوم منطق به داڅلورميليونـه هغه هم پـه ډېرو نـوم اندو پسې ويشل شوي وګړي د دېرشو ميليونواستازيتوب وکړي؟
ـ لـه يوې خواولسمشري تـه دنوم انـدو شمېر لـه څلوېښتو څخـه لوړ شوچې دا پخپلـه دګډوډي او ګلګلميري ثبوت دی له بلې خوابه دولسمشري ټولټاکنې په هيڅ ډول افغان ولس ته سوله رانـه وړي داځکـه چې راتلـونکی ولسمشر که کرزی وي که کوم بل بيابه هم دکرزي په ډول هسې يوه نانځکـه وي چې نـه بـه سالم حکومت ولـري اونـه حاکميت،
په پښتون مېشتو سيموکې بـه داورلمبې لاپسې زيـاتي شي، پښتانه بـه لـه زده کړې،بهرنيوبورسونواومهمو دولتي ځوکيوڅخه د پخواپه ډول محروم پاته شي هسې يوځوپلورل شوي پښتانه به د شمالي ټلوالې داقتدار د ساتلو لپاره په ځنګ کې ور سره ناست وي تر ځودتېرو اتو کلونو په شان دشمال بدنامه ټلواله په ګډۍ سپره وساتي .
ــ دمالوماتولـه مخې داسې ښکاري چې ولسمشري تـه نـوم اندوکسانوپخپلومينځوکې د راتلـونکې اداري ځـانګړې چوکۍ سره وېشلي دي داهم بربنده شوې ده چې دشمالي ټلوالې پټ اومنلی کانديدیوازې کرزی دی خوعبدالله يې هسې داذهانو داړولو په موخه په معرکه ورننيستی دی .
ــ موږ باوري يو چې راتلـونکې ټولټاکنې بـه نـه تنهـا افغـان غمېزه لا پسې اوږده کړي بلکې هر يو چې ولسمشري ته
رامخ ته شي هغه به بيا په موږ بېوزلو باندې راتاوان وي، بيابه هر يو بهرنی سياستوال له خبرې ښکته او پورته زموږ په سترګو راننوزي چې پلانی خودتاسو غوره ولسمشر دی پخپلـه مو ټاکلی، قانوني حثيت لري سره له دې چې موږ دا تش پـه نامـه ولسمشران لا لـه همدې شېبې څخـه نـه منو نو ځکـه بايد افغان ولس داغير عملي او نامشروع ټولټاکنې تحريم او په خپل همت سره دسولې ځرک ولګوي .

## دپورتنيو دلايلو په وړاندي کولو سره زموږ ملګري دا لاندې پرېکړوته ورسېدل :

۱ ـ موږ له خپل اتل افغان ولس څخه هيلـه کووچې دتـاريخي افغانسـتان دبقـأ اوخپل ځـان دخلاصون لپاره ټولټاکنې تحريم او ورسره جوخت دکرزي دغير قانوني دورې تغر ورټول کړي .
۲ ـ دکرزي له ګوښه کېدو سره سم بايد يو داسې لنډمهال او ناپېيلی حکومت رامينځ ته شي چې وسلوال مقاومت ته دخبرو يوه رښتينې زمينه برابره کړي .
۳ ـ موږ له نړيوالې ټولنې څخه هيله کووچې دبې ګټو ټولټاکنوپـه ځـای دافغاني دوديزې لـوې جرګې پـه رابللـو کې مرسته وکړي، هغه لګښتونه چې پـه دې غيرعملـي ټولټاکنوکوي هغه دې ددوديزې لـوې جرګې پـه سمبالښت وکړي
چې له يوې خواخپل له لاسه تللی برم يوځل بياترلاسه کړي اوله بلې خوا زموږ ځوربېدلي ولس تـه سـوله راستنه اود دوی خپل زامن هم له مرګه څخه بچ پاته شي .
۴ ـ لنډمهال ناپېيلی حکوت به دلوې دوديزې جرګې په ترڅ کې رامينځ ته کيږي چې دالويه جرګـه بـه دپخواني دود له مخې رابلله کيږي نـه داوسني ناچل بنسټيز قانون له مخې چې د ولايتـي شوراګانو پلورل شوي استازي بـه بيا پکې ناست وي .
۵ ـ موږ له وسلوال مقاومت څخه په کلکه هيله کوو چې له خپلو ليکو څخه افغان دښمن عناصر څپوهي،دمقاومت اصول مراعت او لـه نړيوالې ټولنې سره دسياسي او ديپلوماتيکو اړيکو زمينه برابره کړي تر څونړۍ يوځل بيا په دې باوري شي چې افغانان بېګناه او په ځانګړي ډول بېګناه پښتانه د پرديولخواد تېل شووجګړوقربانيان دي د
يادولو وړ ده چې پوره اوولـس ۱۷ کاله کيږي چې زموږ د هېواد ټولې بهرنی سياسي نماينده ګی دهېواد دښمنو ګوندونولکه جمعيت، وحدت، جنبش اوځينونوروپـه ولکـه کې دي چې داسپنتا پـه دوره کې تبعيض لاخپلې وزرې پرې وغوړولې ځکه خوزموږ د هېواد دکورنيو جرياناتو هغه رښتينی تصوير بهرنيـانو تـه پـه ناسم ډول ورښيي، په بهر کې د پښتنودبدنامولولپاره هرډول ظالمانه تبليغ کوي، هر پښتون دطالب اوالقاعده پـه نـوم بدناموي چې په حقيقت کې هم دنړېوالوپه سترګوکې خاورې وراچوي اوهم ځانونه ورته له بل هرچاحق په جانب ښيي ځکـه خو بايد نړېواله ټولنه دې مهمې مسلې ته جدي پاملرنه وکړي .
۶ ـ موږ بهرمېشتي افغانان خبر لروچې له ګاونډيوهېوادونوپه تېره بيا له ايران سره تر پرده لاندې يولړ داسې پټ قراردادونه دبهرنيوچارودغير قانوني وزير(اسپنتا)لخوالاسليک شوي چې زموږ له ملي ګټوسره په ټکر کې دي، له نوموړيوقرار دادونوڅخه نـه افغان ولـس خبر دی او نـه اسپنتاکوم قـانوني کـاري جواز لـري ځکـه چې ولسي جرګې رټلی خوهسې دی بې وسلې څوکۍ سالار دی له همدې کبلـه موږ ټولوبهرنيوهېوادونـو تـه خبر ورکوو چې له اسپنتا سره شوي قراردادونه حقوقي حثيت نه لري .
۷ ـ زموږ کولتوري ټولنه په کلکه دهالنډ دافغاني کولتوري ټولنې دسمپوزيم له پرېکړه ليک څخه ملاتړاعلاموي او دښاغلي ډاکتر روستار تره کي دعالمانه نظرياتودرناوی او عملي کول غواړي .
۸ ـ دبايرن مېشتوافغانانوکولتوري ټولنه له هيڅ کوم سياسي سازمان سره اړيکه اوخواخوږي نه لري، دخپلې ملـي او ايماني وجيبې له مخې په زغرده دافغان ولس دنجات اوسرلوړي لپاره نه ستړېکېدونکې هڅې کوي او لـه نـورو

**ټولوافغاني کولتوري، ټولنیزو اوسیاسي کړیوڅخه  په کلکه  غوښتنه کوي  چې د تل  پاتې سولې، ملي ګټو، ملي یوالي  دساتلواوزموږ  دسپېڅلې خاورې  دتمامیت لپاره ګړندي ګامونه اوچت کړي نه  دڅو لنډ محالو ګوډاګیانو دتبلیغ لپاره .**

**۹ ـ زموږ کولتوري  ټولنه یوځل بیاله  ټولوباحساسو اوهېوادپالوافغانانو په ځانګړي  ډول له اتلوقلموالوافغانانو څخه هیله کوي  چې داتاریخي اومهمې  شېبې له لاسه څخه ورنه کړي، ددې تحمیلي ټولټاکنودتحریم لپاره سولیز لاریونونه، غونډې اومتېنګونه وکړي، قلموال  ملګري خپل قلم  راپورته او یوځل بیازموږ  دولس  د غلیمانو توري نقشې داسې په اوبولاهو کړي لکه  هغه  د سرشمېرنې (سرغوڅونې) تور ښامار مو چې  ټوټه ټوټه کړ .**

## په جرمني کې دبایرن مېشتو افغانانو کولتوري ټولنه

خوږ.وغمشریکواو په درد دردمنو خویندو او وروڼو!

په تاسو مو ډېر درد اوغم نه لوریږي هسې به دنمونې په  ډول  دهغودریو ماشومانوانځورونه  دروښیو کوم  چې د یورانیم لرونکو وسلو له بمباري څخه وروسته  دنیا ته  راغلي  دي  دا هم باید زیاته کړو چې  د دموکراسي په نوم    له دنګ او ښایسته پېښتون قام سره څومره ناروا  او ځورونه روانه ده .



کومې دردونکې صحنې چې په دا لاندې انځورونو کې لیدل کیږ.ي دا هم  دړندو بمباریو په نتیجه کې دطالب او القاعده په نوم تر سره شوې دي .

## په کندهار کې د بې ګناه وګړو د وحشي وژنې انځوريز رپوټ





دوه ورځې مخکې امريکايي ځواکونو په ډېره بې رحمۍ د کندهار د شاه ولي کوټ ولسوالۍ په وچ باختو کلي کې په يو واده بمباري وکړه او واده يې په وير بدل کړ. امريکايانو ۴۰ بې ګناه هېوادوال شهيدان کړل. په وژل شوو کسانو کې ۱۰ سرتورې او ۲۳ تنکي کوچنيان دي.

افغان ولسمشر حامد کرزي وژنه غندلې ده او د امريکا له ټاکل شوي ولسمشر باراک اوباما څخه يې غوښتي چې د خپلې دورې په دوران کې د ولسي وګړو مرګ - ژوبله ودروي. دا لومړی ځل نه دی چې د افغانستان مشرتابه له بهرنيانو څخه داسې غوښتنې کوي.

لاندې د بمبارۍ ځينې خپاره شوي انځورونه دي:



دا د وچبختو کلی دی چې امريکايانو په بې رحمې بمبار او واده يې په غم واړاوه.

د دې کلي يو اوسيدونکي رحمت الله رسنيو ته ويلي چې دوه بجې يا دوه او شل دقيقې وې چې الوتکې راغلې او بمباري يې وکړه.

بل کليوال محمد عاصم بيا پوښتنه کړې ((اوس تاسو وينئ څنګه امريکايان ښځې او ماشومان بمباروي، ټول بې ګناه خلک بمباروي. زه غواړم له امريکايانو وپوښتم چې تاسو  په دې وطن کې د ثبات او سولې راوستو په موخه راغلې ياست او که د دې وطن د ويجاړولو او بې ثباتۍ دپاره راغلې ياست؟))

د کلي بل اوسيدونکی حيات الله وايي چې ((په بمبارۍ کې اکثره وژل شوي کسان ښځې او ماشومان دي. نوموړی وايي چې د چا سر نه و، د چا لاس نه و، دوی په ډېر بد حالت کې وو.))



د کلي بې چاره خلک، رسنیو ته د بې رحمه بمبارۍ نتیجه ښايي.



دا تنکي ګلان ماشومان، چې بخت يې ښه و او ژوندي پاتي، د مکتب په ځای په روغتون کې پراته دي. کور، کالي، ډوډۍ هم بمونه او وحشت راوست، او اوس بهرنيان افغانانو ته ډيموکراسي هم په داسې بيه خرڅوي.



شنونکي په دې باور دی چې داسې پېښې ډېرې شوي او کېږي، خو ډېرې کمې رسنيو ته رسي. داسې ډېرو هېوداوالو خپل ژوند او شتمني له لاسه ورکړې ده، خو رسنيو ته هر چا لاس رسی نه دی لرلی.



ولس لا لګيا دی او د ورکو خلکو پسې د ويجاړو کورونو په ورانۍ کې ګرځي.

د افغانستان جنوب لويديزو سيمو او په ځانګړې توګه د کندهار ولس له سوونو کلونو راهيسي د خپل شهامت په

بدل کې يرغل کونکو او ظالمو واکمنانو ځپلی دی. له ايراني صفويانو څخه نيولې، د طالبانو او امريکايانو تر دورې پورې. د اوسنۍ جګړې محور هم دا سيمه ده او په جګړه کې دواړه ښکېل غاړې د دې سيمې بې ګناه وګړي ځپي او وژني.



دشينډنډ له خونړيو بمباريو څخه وروسته بياهم د بهرنيو يرغلګرو زړه سوړ نه شو **دکابل په هودخېلوکې يې ديوې بېګناه کورنۍ دا لاندې دوه تنکي ماشومان دمور اوپلار په ګډون په سپکو وسلو ووژل**



په لاندې تصويرونوکې به يو شمېرهغه محکومې څېرې ووينئ کومې چې د افغان غميزې په اوږدولو کې لوی لاس لري دوی د پرديو لپاره دخپل ناموس په شمول هرڅه پلورلی شي، کوم بشري ناورين چې د ړندو بمباريو له وجې په پورتنيو انځورونو کې تاسو وليد په دې کې دشمال ټلواله شريکه او افغان ولس ته به ځواب وايي د هېواد دنوروپښتونمېشتو سيمو غمېزې اوبمباری لکه په هلمند، شنډنډ،فراه ، زابل، نيمروز، ارزګان، دلوې پکتيا په ډېرو سيمو لکه زرمت، دپکتيکا په متاخان، ابراهيم خېلو ، خوست،کنړ،لوګر، وردګو، دننګرهار په هسکه مېنه اودهرېګناه پښتون په هرکورچې شوې په هغو انځورونوبه نور تاسې نه غمجنوو خوبشري تاريخ به دا جنايتکاران خامخا محکوم اونومونه به يې د تاريخ په تورو پاڼو کې ځکه وليکلې چې دا خو همدوی دي چې دتروريزم په نوم جګړې زېږوي،دافغان عزتمن قام په ناموس تېری کوي،په ښځوڅه چې آن په افغان نارينووباندې جنسي تېری کوي ترڅو مقاومت رامينځ ته او همدامقاومت جګړه پيل کړي اوبيا دوی په سيمه کې دخپل پاينښت لپاره پلمه پيدا کړي خو دوی لا په دې خبر نه دي چې افغان (پښتانه) ژوند له عزت سره جوړه غواړه نه د بې عزتي ژوند خو له بده مرغه چې همداخبره بيا زموږ يو شمېر نورو غليمانو دخپلو اهدافو لپاره ښه وسيله ګڼلې ځکه خو زموږ تنکي زلميان ځان وژنې ته هڅوي، دجنتونو وعدې ورکوي خوبياهم دا ځانمرګي عمليات دکم بخت پښتون په کورکوي موږ خولا تر نن ورځې دهغې ټلوالې يو چرګوړی هم مړ ونه ليد کومه چې سپينې ماڼۍ ځان ته وسيله او دطالبانو دزوال سبب شوه دا هم يوه لويه پوښتنه ده چې ننني وسلوال مقاومت يې بايد ځواب راکړي .



دمكې له قران خورو، تش په نامه مجاهدينو څخه وروسته  دافغان ولس لپاره نوي درې قران خواره





دپورتنيو هېواد دښمنو جعلي مجاهدينو ارمان  دتاريخي كابل په ورانولوپوره شو



دوحدت دګوند مشر همداپټکی ترلی عبدالعلي مزاري  و دهغه په هدايت به دخلګو په سرونوكې ۱۶ انچه مېخونه وهل كېدل، په بټيوكې به ايره كېدل، په مېرمنوبه تېزاب شيندل كېدل، رقص مرده خودعبدالعلي مزاري دقوماندانانوورځنۍ سرګرمي وه .



دمسعودپه ژوندعبدالله ګي ليلامي پټلونونه اغوستل خودمسعود له الوزولوڅخه وروسته دشلو زرو ډالرو په بيه
درېشي اغوندي چې دښاغلي کرزي اومېرمن زينت کرزي له ټولې هستي سره برابره ده البته دکرزي له خولې



اسپنتا لويديځ ته مکاره کيدړه خودايران تالي څټی،ولسي جرګې رټلی خو پخپله بې وسلې اشغالګر




دبن دکنفرانس له پرېکړو څخه يوه هم دکډوالو موضوع وه چې بايد ژر تر ژره عملي شي خو په پورتني انځور کې دخواجه بهاوالدين دولسوالي پښتانه کډوال ګورئ چې لا تر نن ورځې دکرزي له لاسه له خپلوکورونواوځمکوڅخه محروم پاته دي همدا پښتانه لا اوس هم په زندان کې بېګناه پراته دي چې ددې غميزې ځواب به هم شمالي ټلواله راکوي همدا ډول نه تنها چې له بهر څخه دافغان کډوالو دراتلو زمينه برابره نه شوه بلکې دهېواد په دننه کې هم کډوال خپلوسيموته چا ونه رسول چې دا هم داتو کلوددروغجنې ادارې يوه بله رسواي ده ددې په څنګ کې په افغان ولس تپل شوی کرزی زموږ دببوزلو

کوچیانو له حق څخه سترګې پټوي او هر کال یې له بهسودو څخه په سره ګرمي کې له خپلو مېنو څخه شړي تر څو جنګي جنایتکاران خوښ وساتي او په تولټاکنو کې ناوړه معامېلې ورسره وکړي .



پښتون دښمن کرزی له نمک حرام دوستم سره



کرزی دکریکټ اتلان ځکه نه نازوي چې هغوی دافغانستان اصلي توکم (پښتانه) دي خوکرزی اوس بدل شوی دی خلګ خو لا داسې هم وایي چې په دا لاندې تصویرونو کې یو اصلي کرزی دی چې اوس وجود نه لري خو دا بل کاپي کرزی دی چې په هره ژبه لګیا او په خپل ځان حاکمیت نه لري .



دکرزي ريښتيني تصوير کوم چې دبن دکنفرانس په ورځو شپو کې اخيستل شوی



په پورتني انځور کې ربښتيا هم کرزی بل ډول ښکاري  نور به حال خدای او زوررورو ته مالوم وي



شاه شجاع له کرزي څخه ډېرشجاعت درلود دا که اصلي کرزي وي که کاپي

نو په موږ ګرانو هېواد والو!

تاسوخوپخپله هم  ډېري نا خوالي ليدلي دي خوباورلروچي د پورتنيوانځورونوپه ليدوسره به موهوډ لا پياوړی دخپل ځان، خپلو بچيانواومظلوم ولس  د ښې راتلونکې  په  خاطربه دبايرن  مېشتو افغانانو دکولتــوري  ټولنې داحساس او تاريخي  پرېکړو ملاتړوکړئ،  همداحساسي شېبې  به  دسوليزولاريونونو، مټنګونو او غونــډو په جوړولوسره ګټورې وکاروئ ترڅوداله فرېب څخه ډکې ټولټاکنې تحريم،دپرديواوپردي پالوداناوړه دسيسي له خاورو سره خاورې کړئ  .

## په جرمني کې دبايرن مېشتو افغانانو کولتوري ټولنه